DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

سال سوم شماره هژدهم
شماره مسلسل ۹۹
یکشنبه ۶ دلو ۱۳۸۱ هـ ش
۲۴ ذوالقعده الحرام ۱۴۲۲هـ ق
26 January - 2003

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER AMRC

هوشدار کمیته بین المللی پارلمان بریتانیا

شرایط مناسب امنیتی در افغانستان وجود ندارد

در افغانستان هرج و مرج بوجود خواهد آمد

راپور یک کمیته پارلمان بریتانیا هوشدار میدهد که اگر افغانستان کمک اقتصادی و امنیتی بیشتر دریافت نکند هرج و مرج در آن کشور به وجود خواهد آمد.

گزارش کمیته بین المللی پارلمان حاکی است که یکسال بعد از جنگ تحت رهبری ایالات متحده امریکا که رژیم طالبان را بر انداخت یک اقتصاد عملی و شرایط مناسب امنیتی در افغانستان وجود ندارد.

گزارش میگوید اکثر قسمت پنج ملیارد دالری که به افغانستان کمک داده شده است به عوض باز سازی آن کشور جنگ زده در پروژه های بشری به مصرف رسیده است.

راپور همچنان خواستار منتقل ساختن قوای حافظ صلح نه تنها در کابل بلکه در سر تا سر افغانستان شده است.

امریکایی ها باید آماده باشند

پیام کیبلی وزارت خارجه به ۲۶۰ دفتر دیپلوماتیک ارسال شده است

این هوشدار غیر عادی از منازعه مشخصی نام نمی برد. حکومت ایالات متحده امریکا به امریکائی هائیکه در خارج زندگی میکنند هوشدار داده تا برای وقایع عاجل ناشی از تهدید تشنج های منازعات حملات دهشت افگنی و یا حالات غیر مترقبه در کشور های که اقامت دارند اماده گی داشته باشند.

یک پیام کیبلی وزارت خارجه به ۲۶۰ دفتر دیپلوماتیک امریکا در سراسر جهان ارسال شده و میگوید اتباع امریکا که در کشور های خارجی زندگی میکنند باید برای وقایع عاجل به شمول اخراج آماده گی داشته باشند، پیام به امریکائیان توصیه میکند تا پاسپورت ها و اسناد مسافرتی شانرا مطابق به تاریخ و وقت آماده ساخته، اسناد طبی را تازه ساخته و مواد خوراکی حالات عاجل و دواهای شانرا در دسترس داشته باشند. این هوشدار غیر عادی که روز جمعه صادر شده از کدام منازعه مشخص نام نمی برد اما در حالی نشر میشود که ایالات متحده امریکا به اعمال نظامی در خلیج فارس برای آماده گی به یک جنگ احتمالی با عراق ادامه داده است.

پرسونه ییز حل واکي د عراق په لاس کي دی

فیشر پر عراق د برید مخالف دی

فیشر ایران، سوریه، عربستان، اردن او ترکی بهرنیو چارو وزیرانو سره لیدلی دی

د جرمني د بهرنیو چارو وزیر یوشکا فیشر ویلی چې که عراق غواړي چې له جګړې وژغورل شي نو هیڅ راز هلوځلو ته اړتیا نه وینې چې د ملګرو ملتونو د وسلو پلټونکو د کار د ډب کېدو باعث شي.

یوشکافیشر په قاهره ډمصر له ولسمشر حسن مبارک سره تر لیدو وروسته خرګنده کړه چې جرمني او ټور هېوادونه د عراق په وړاندې د پوځي برید مخالف دي. او هڅه کوي چې د سوله ییز حل لارې چارې ولټوي خو ده وویل چې د سوله ییز حل واکي د عراق په لاسونو کې دي.

ښاغلي فیشر د منځني ختیځ په سفر وتلی دي. تېره اونۍ د ایران، سوریې، عربستان، اردن او د ترکیې له بهر نیو چارو وزیرانو سره په استانبول کې کتنې درلودې.

دوه تنه تورن وبلل شول

دوی د یوولسو فرانسویانو په وژنه کې لاس درلود

د کراچۍ کې د پرون خارنوالانو د کراچۍ په ټار کې وویل چې دوه تنه په رسمي ډول په وژنه اوهغه ترهګره دسیسه کې په لاس لرلو تورن وبلل شول چې د تېر عیسوي کال د می په میاشت کې د یوولسو فرانسویانو د وژل کېدو باعث شوه.

په آصف زهیر او بشیر احمد باندې را تورونه د کراچۍ په ترورېزم ضد محکمه کې ولګېدل.

په آصف زهیر او بشیر احمد باندې چې د ډنیل پرل د وژلو تورونه لګول شوي دي، د ترورېزم ضد محکمې قاضي ډاکټر شاه خان د دوی په وړاندې د تورونو د جوړولو نېټه د ۲۰۰۳ کال د فبروري ۲۴ نېټه وټاکله.

که چېرې دوی په دغو جرمونو اعتراف وکړي نو دوی به د مرګ په سزا محکوم شي. ددوی محاکمه به د فبروري په لومړۍ نېټه بیا پیل شي. د کراچۍ پولیس هڅه کوي تر څو ځلور نور شکمن کسان ونیسي

کویټ کې پر امریکایانو ډزې

د متحده ایالاتو ځواکونو ویلي چې په کویټ کې د دوی پر یو پوځي کاروان برید شوی خو کوم ځاني زیان یې نه دی اړولی.

یوه پوځي ویاند د یوېڼ د سمو کس ویلي چې دغه برید د کویټ د ښار په جنوبي برخه کې له یوه موټر څخه شوی دی. دغه برید په کویټ کې دهغو بریدونو یوه کړۍ ده چې په تېر وخت کې پر نظامي او ملکي امریکایانو تر سره کېږي.

تېره سه شنبه یوه کویټي بنسټپال د یوه برید په ترڅ کې یو ملکي امریکایي مړ او بل یې ټپي کړ. دغو دواړو ملکي امریکایانو په کویټ کې له امریکایي ځواکونو سره کار کولو.

امریکا وقت بیشتری برای مفتشین اسلحه خواهد داد؟

گزارش دو ماه کار مفتشین به شورای امنیت ارایه می شود

حکومت بوش از عجله کار می گیرد

ایالات متحده امریکا گفته است این موضوع را مورد غور قرار داده که به مفتشین اسلحه ملل متحد در عراق وقت بیشتری برای پیدا کردن مدارک اسلحه تخریب و تباهی جمعی بدهد.

گزارش روزنامه واشنگتن پست از مقامات امریکایی نقل قول کرده که ایالات متحده امریکا شاید مطمئن باشد تاقبل از فشار آوردن بالای شورای امنیت ملل متحد برای اتخاذ تصمیم روی چگونگی رعایت عراق از درخواست های آن شورا در رابطه به خلع سلاح چند هفته انتظار بکشد.

عکاسي : ساووک

خاتمي نوي ډهلي ته ورسید

د ایران ولسمشر محمد خاتمي تېره ورځ د یوه ځلور ورځني سفر په موخه د هندوستان پلازمینې نوي ډهلي ته ورسید.

ښاغلی خاتمي پرون له هندي چارواکو سره د عراق د ستونزې، تروریزم، د ایران او هند په دوه اړخیزه همکار یو خبرې وکړې. ده په دغه لړ کې د هند د بهرنیو چارو له وزیر یشوان سینها سره وکتل.

ښاغلی خاتمي وویل چې له تروریزم سره جګړه په داسې بڼه پر مخ ښیول کېږي چې د نړۍ په ګوټ، ګوټ کې یې د جګړو او رونه بل کړي دي. ده زیاته کړه چې د عراق ستونزې او په خلیج کې د امریکایي ځواکونو هجوم ایران ډېر اندیښمن کړي دي.

دو مرد عراقی چی می خواستند؟

مردی با چاقو مسلح میخواست د اخل عمارت مفتشین شود

مرد دیگری بالای یک موتر حامل متفشین خیز زده کمک می طلبید

مامورین ملل متحد در بغداد میگویند که یک مرد که با خود چاقو حمل میکرد دیروز سعی نمود تا داخل عمارت مفتشین ملل متحد شود و اما قبل از داخل شدن توسط مامورین عراقی و ملل متحد متوقف ساخته شد.

نطاق ملل متحد گفت:

آن مرد به پولیس عراق تسلیم داده شد. یک گزارش این مرد را مامور حکومت عراق معرفی میکند. مدت کوتاهی بعد از این واقعهٔ خبرنگاران شاهد خیز زدن یک مرد دیگری عراقی بالای یک موتر ملل متحد بودند که برای انجام تفتیش محوطه عمارت را ترک میگفت.

گزارش ها میرساند که مرد فریاد میزد مرا نجات دهید و برای ده دقیقه نمی خواست از موتر پائین شود، در باره این که آیا این مرد تحت سرپرستی ملل متحد باقیمانده و یا به محافظین عراقی تسلیم داده شده است، گزارش های ضد و نقیض در دست است. تا هنوز معلوم نشده که آیا این دو واقعه با هم ارتباط داشتند یا نه، از آغاز کار مفتشین ملل متحد در عراق برای اولین بار چنین واقعاتی به وقوع پیوسته است.

د لوی او بیړنۍ خدمتې پاڼه

سرمقاله

مینځمهاله اداره د لخټاب کمیسیون نه سترې اړتیا لري

په ګران هېواد افغانستان کې د لنډ مهالې او مینځمهالې ادارو د جوړېدو وروسته یو شمېر کمیسیونونه لکه د بیړنۍ لویې جرګې د جوړېدو، د بشري حقوقو، قضا، دا ولسی جرګې د جوړېدو او د اساسي قانون مسودې جوړ شول. د داسې کمیسیونونو جوړېدل په واقعي توګه بې ګټې نه دي دا کمیسیونونه کولای شي چې د یو شمېر ستونزو په حل کې او هم د هېواد له پاړه د یوې معقولې تګ لارې بنسټ رامنځته کړي که څه هم د دې کمیسیونونو د غړو په تاکنه کې پوره عدالت په پام کې نه دی نیول شوی مګر د نړیوالې ټولنې د پر له پسې هلوځلو په مرسته. څه نا څه مثبتې پایلې یې تر لاسه شویدي. د یادونې وړ ټکی دادی چې د مینځمهالې اداري مشر ښاغلی حامدکرزی باید پخپل نوښت د احتساب د کمیسیون د جوړېدو د کار پیل کړي. ځکه په تیرو دیارلسو میاشتو کې هم د مینځمهالې اداري چارواکو او هم غیر دولتي موسسو د خپلو دندو څخه د ناروا ګټو په پورته کولو بوخت دی دا شمېر کسان داسې فکر کوي چې هېواد په خپلو ستونزو کې ډوب دی دوی د وخت څخه په استفادې داسې ناروا عملونه ترسره کوی د بده مرغه د ثور کودتا وروسته ددې هېواد قانوني مراجع د ګوابښ سره مخ شویدي که چېرې د هېواد د ننه یاد جهاد په دوران کې یا هم د طالبانو او تنظیمونو د واکمنۍ په وخت ډېرو افغانانو چې هېڅ نه درلودل د ملت د عوایدو د چور او چپاول له امله سوداګر، سیاستمدار، رهبر او د زور خاوندان شوي دي. زمونږ ددې یادونو څخه موخه داده چې مینځمهاله اداره غواړي چې ولسي جرګې ته تاکنې وکړي او هم د اساسي قانون د تسویدنه وروسته آزادې تاکنې رامینځته شي نو هیله ده د هغه چا چې لاس د خپلو هېوادوالو په وینو رنګ وي او ملي خیانت یې کړي وي دا ډول کسان باید د احتساب د کمیسیون له خوا وپیژندل شي په راتلونکی کې دی داسې ملي خاینانو د هېواد د مشر تابه ولسي جرګې، مشرانو جرګې او د حکومت لوړو مقاموونو ته د رسیدو مخه ونیول شي.

د ترانسپورت لایحه دې پلي شي

د بنارې او لیني موټرونو د کرایې د لایحې د جوړولو څخه دادی اوس د ګوتو په شمار ورځې او شپې تېرېږي. چې لا خو یې یوه اونۍ هم نه ده پوره شوې.

کله چې دا لایحه د ترانسپورت د وزارت په نوښت جوړېده نو په هغه ډله کې چې دټولو اړوندو ادارو لکه دترافیکو، بنارواليو د تجارت وزارت او نورو، د خصوصي سکتور د برخې استازو یعنې د شخصي ترانسپورټونو استازو هم برخه درلوده، او دا لایحه د دغو ټولو ګډون کوونکو له خوا د نرخونو او واټنونو په پام کې نیولو سره تصویب شوېده، چې په بنکاره، د شخصي ترانسپورت استازو، ټولو موټر چلوونکو، که بنارې دي او که اطرافي په دغه غونډه کې استازیتوب کړي او دهغوی په مشوره دا لایحه ومنل شوه.

دادی اوس ددغې لایحې په پای کې دهغو کسانو د لاسلیکونو رنګونه لاوچ شوي نه دي چې په دغه لایحه یې د تائید مهر ایښي دي، خو د اوس څخه داسې بریښي چې دا لایحه هغه کسان چې استازو یې منلي ده، اوس یې هغوی نه مني، او دا دلیل راوړي چې تیل ګران دی، د موټرونو سامان ګران دی او په پای کې هر څه ګران دي.

آیا دا خبرې چې نن ډریوران کوي د واقعیت سره اړخ لګوي او که نه یوازې د اضافه ستاني لپاره یوه بهانه او خلکو ته دوکه ورکول دي.

واقعیت دادی چې دغه کرایه چې اوس ټاکل شوېده، د ټولو ستونزو او ګرانیو په پام کې نیولو سره ټاکل شوی، او دا چې ډریوران ددې لایحې څخه سر غړونې کوي، په بنکاره د سپرلیو او بناریانو سره ظلم، تیري او ددوی څخه د باج اخستل دي.

په کار داده چې هغه ادارو چې د ټولو ستونزو د اړخونو په پام کې نیولو سره دغه لایحه تصویب کړېده، دنده لري چې دلایحې په تطبیق کې عملي اقدام وکړي، د ترانسپورت نمایندګیو او ترافیکو ته دې دنده ورکړل شي، تر څو د بنار په ټلور دروازو او همدا راز د بنار په بېلابېلو سیمو کې دې د څارنې ډلې جوړې کړي، یا دې هغه کارکوونکو ته چې همدا اوس په دغو سیمو کې دنده لري یادونه وشي چې تر څو د خودسرۍ او تېریو مخه ونیسي.

او پرې نږدې چې هر څوک چې څنګه یې زړه غواړي د لایحو او مقرراتو د پام کې نیولو پرته د خلکو سره چلند وکړي.

باتور

دولتي ځمکې د چا شخصي ملکیت نه بلکې د ټول ولسوالۍ مال دی

د هېواد په هره سیمه او هر ولایت کې په پراخه اندازه د شخصي ملکیتونو تر څنګ دولتي ځمکې او ملکیتونه هم موجود دي چې له هغو څخه دولت کولای شي د ملت په ګټه تري استفاده وکړي او دولتي تاسیسات پکې جوړ کړي چې دا کار تر اوسه پورې په دوامداره توګه تر سره شوی او په کومه دولتي ځمکه کې چې دولت د کومو تاسیساتو د جوړولو اراده کړې ده هغه یې جوړ کړي او د استفادې وړ ګرځیدلي دي.

خو ځینې داسې ځمکې او ملکیتونه هم شته چې لا تر اوسه دولت په هغو کې د کومو تاسیساتو د ودانولو پلان تر لاس لاندې نه دی نیولی خو بیا هم په دې تمه چې کومه ورځ به د دولت تر استفادې لاندې راشي عام وګړي ورڅخه استفاده نه شي کولای او که چا دا کار وکړ. نو دولت حق لري چې له هغوی نه پوښتنه وکړي او د ځمکې د پرېښودو امرونه صادر کړي چې په هغه صورت کې هیڅوک ددې حق نه لري چې د دولت له دغه حکم نه غاړه وغړوي او د ځمکې له پرېښودلو نه انکار وکړي. په هېواد کې تیرو د څه د پاسه دوو لسیزو جریان زمونږ زیات هېواد وال دې ته اړ کړی چې خپل کور کلی پرېږدي، یا خو بهرینو هېوادونو ته کډه وکړي او یا هم په هېواد کې د ننه پر کومه دولتي ځمکه واړوي چې د حلالتو تر سمیدو پورې څه موده هلته په ارامۍ سره تیره کړي چې البته دغه شان بېځایه شوي کډوال د هېواد په هره سیمه کې لیدل کېږي او لا تر اوسه هغې ورځې ته ستړګې په لاره دي چې خپلو کورونو ته د ستنیدو امکانات تر لاسه کړي.

دغه شان کورنۍ د ننګرهار په ولایت کې هم میشتې دي چې پر دولتي ځمکو یې اړولي او د څټو کوډلې یې پکې جوړې کړي دي، خو اوس د ننګرهار د ولایت چارواکو هغوی ته ویلي دي چې ځمکې دې تخلیه کړي، مګر په دې اړه یې لکه چې هېڅ فکر نه دی شوی چې په دې سارې زمي چې هغوی بې ځایه شي چیرته به ولاړ شي او له څه ډول شرایطو سره به مخامخ شي، پخپلو کورونو کې د کډوالو د بیا ځای پر ځای کولو پروګرام خو اوس له هېواد څخه د باندې هم دریدلی دی ځکه چې زمی دی او په زمې کې له یو ځای نه بل ځای ته کډه کول زیات مشکلات پیدا کوي.

د ننګرهار ولایت له مسئولو چارواکو څخه د کډوالو هیله داده چې لږ تر لږه د یخنۍ تر پای ته رسیدو او پخپلو سیمو کې د کډوالو د بیا میشته کولو په اړه د حلالتو تر سمیدو پورې دې هغوی ته وخت ورکړي چې په ډاډه زړه وکړای شي خپلو کنډواله کورونو ته ستانه او د هغو په بیا ودانولو لاس پورې کړي.

د لرغونو آثارو د قاچاق مخنیوی

زمونږ د ملي شتمنیو په ټپره بیا دهېواد د لرغونو او تاریخي آثارو په وراندې دخپنو وسله والو خواکونو چال چلند هېڅکله د بخښنې وړ نه دی. دا ځکه چې ددغو آثارو پلورل او قاچاق اصلا زمونږ د تاریخ او فرهنګ اوزمونږ د نیکونو د تیر برم او پرتم د پلورلو او قاچاق په مانا دی چې د بده مرغه د نالوستو. نفس پرستو او په خپله ګټه مینو اشخاصو له خوا پر مخ بیول کېږي او ددغو لرغونو اثارو قاچاق وړونکی بیا د نړیوالی مافیا له قاچاق وړونکو سره اړیکه او ارتباط لري او لکه د ضرر رسوونکو موږ کانو په څېر په نیاره کې په غلچکه توګه له خپلو پټون خاپونو څخه راوخي د لرغونو آثارو ځمکې ډډوي او هغه بیا د ګاونډیو هېوادو له لارې د ډېر کمو پیسو په مقابل کې پلورۍ او پخپل دغه ملي خیانت سره زمونږ د هېواد پنځه زره کلن تاریخ اوملي هویت ته تاوان رسوي.

د لرغونو آثارو دغیر قانونی او غیر فني کیندنو او د هغو د قاچاق په باب د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له خوا د یونسکو سازمان ته یو مکتوب هم استول شوی او د یونسکو له فرهنګي سازمان څخه هیله شوی چې دغړیو هېوادو له لارې زمونږ له جنګ خپلې هېواد سره همکاري وکړي تر څو د خود سره کېندنو مخنیوی وشي. همدارنګه د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر څو څله د والیانو او امنیتي قوماندانانو په سیمیناروتو کې هم غوښتنه کړې چې ددغه راز قانون ماتوونکو او بې فرهنګو کسانو مخه ونیسي خو د بده مرغه چې لا تر اوسه په ډېرې بې رحمې سره په زیاتو سیمو کې د آثارو را بر سیروته او غلا روانه ده.

د ساري په توګه د هندوکش اژانس په حواله د لوګر ولایت دعینکو له سیمې څخه د پکتیا یو تن سیمه ییز قوماندان ګڼ شمېر تاریخي آثار غلا کړي او له هېواد نه بهر یې ایستلی دی. همدارنګه د لوګر ولایت د خروار ولسوالی د کافر قلعه په سیمه کې یو لرغوني بنار وموندل شو چې آثار یې په غلا او بې مسولیته توګه را سپرل شوي و خو وروسته چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت پام ور واوښت هلته بې امنیتي پوستې ځای پر ځای کړې او اوس هڅه کېږي چې په خپنو دغو سیمو د کورنیو او بهرنیو کارپوهانو په مرسته کېندنې پیل شي.

همدارنګه د لرغوني پېژندنې د انستیتوت د معلوماتو له مخې په ټول هېواد کې څه نا څه پنځه زره داسې سیمې شته چې هلته زمونږ دغه راز ارزښتناک فرهنګي آثا تر خاورو لاندې دي او د همغو سیمو جنګ سالاران او یا د هغوی خپلوان او شریکان وخت په وخت تري ناوړه ګټه اخلي او بهر ته یې صادروي.

موږ د هېواد نه یو شمېر بیدارو موظفینو څخه مننه کوو چې پدې برخه کې بې خپل مسولیت درک کړي او د څو تېرو میاشتو په بهیر کې یې یوه اندازه دغه آثار نیولی او د اطلاعاتو او فرهنګ د وزارت ته بې سپارلې دی د ساري په توګه څه موده مخکې شپږ ویشت قلمه لرغوني آثار چې د سمنګانو په ولایت کې نیول شوی وو او د بودا څلور مجسمې چې د عینکو له سیمې څخه تر لاسه شوی وو. پنځلس قلمه نور آثار چې د لوګر د خرواری له سیمې څخه تر لاسه شوی وو او یو زیات شمېر نور آثار چې دهوټی بهرنی موسسې په موټر کې خای پر ځای شوی وو ټول د امنیتي مقاماتو له خوا نیول شوي او ملي موزیم ته سپارل شویدي.

موږ پداسې حال کې چې د امنیتي مقاماتو دغه راز د هېواد پالنې هڅو ته د قدر په سترګه ګورو پدې هم باور لرو چې دا یواځې په اصطلاح مشت نمونه بې خروار خبره ده یعنې دا یواځې یوه ډېره کمه اندازه ده چې نیول شوي او زیاته برخه یې د قاچاق وړونکو له خوا بهر ته استول شوي او پلورل شویده. موږ پدې برخه کې یو خل بیا د یونسکو د فرهنګي سازمان له غړیو هېوادو څخه هیله من یو چې زمونږ سره د هېواد د لرغونو آثارو په رابرسیرونه او د هغو د قاچاق په بندونه کې دوامداره مرسته او همکاري وکړي تر څو موږ خپلې دغه ارزښتناکې فرهنګي زېرمې له خاورو څخه راویاسو او خپلو موزیمو ته یې په لیږدونې سره خپله معنوي او فرهنګي بډاینه پرې زیاته کړو.

همدارنګه موږ د نړۍ له ټولو هېوادوالو څخه د ا هیله هم لرو چې زمونږ دغه راز فرهنګي میراثونه چې نن یا د نورو هېوادو موزیمونو ته رسیدلی او یا تودو بازارونو ته وړاندې شوی خپلو وارثانو ته وسپارې او پخپل دغه کار سره د افغانانو د خوښۍ اثباب برابر او خپل بشري مسولیت له خپلو اوږو څخه وغورځوي. موږ همدارنګه پدې برخه کې د چاپان او ناروی له حکومتونو څخه مننه ځرګندوو چې زمونږ د فرهنګي لرغونو آثارو په بیرته راکولو سره نورو ته بېلګه او نمونه شول او خپله نړیواله دنده یې سرته ورسوله.

زیارمل

افغان کلیوالي ښځې یو هېر شوی مخلوق

کله چې موږ په افغانستان کې دښځو ستونزو او کړاوونه ته سر ورکوزو، هېوادنۍ او نړیواله میډیا یواځې د کابل او نور غټو ښارونو د ښځو په ستونزو ناخوالو غږ او پند، پند راپوروونه ګزارشونه د رادیو تلویزوني خپرونو او اخبارونو له لیاری خپروي، دا خپرونې یواځې د هېواد د لس % ښځو ستونزو او د حقوقو د پامه غورځولو ژوندي او مړه تصویرونه، هېواد والو او نړیوالو ته رسوي. موږ تر اوسه ډېر داسې را پورونه او ګزارشونه لېدلی یا اورېدلي دي چې دښاري ښځو او په ټپره بیا د کابل دښځو د ستونزوپه اړه جوړ شوی دي. دا راپورونه ددغو ښځو د روغتیا، ټولنیز ژوند پر ستونزو، د زده کړو پر اړتیاوو او په سیاسي سیستم کې د برخې اخیستلو پر موضوعګانو رڼا اچوي چې دا اړتیاوې او ستونزې د کلیوالو ښځو په ذهنونو کې یو بې تعبیره خوب دی. دغو سیاسي نظامونو، بشري حقوقو، تیکنالوژۍ، خبرې رسنیو تر اوسه داسې یو رپوټ او ګزارش نه دي جوړ کړی چې د یوه هېر شوي اکثریت پرستونزو رڼا واچوي. دداسې یوه اکثریت په اړه خلک او نړیوال خبر کړي چې لا تر اوسه د خپلو روا حقوقو، خپل سالم موقف څخه هېڅ خبر نه لري. د یوه داسې اکثریت چې لا تر اوسه، ښوونځي پوهنتون ته نه دی تللی، د لیک لوست په برخه کې یې له نارینه وو څو چنده شا ته پاتې دی، د ژوند په ټولو برخو کې د ستونزو سره مخامخ دی، د ژوند په هره برخه کې د ستونزو سره مخامخ دی، د ژوند په هره برخه کې د ستونزو سره مخامخ دی، د ژوند په هره برخه

خواندنیهای جالب

متصدی صفحه : زهره

یه خندا کی د عمر اورد والی

پوهان وانی ، حندیدل ببنونکی مواد زیاتیږی .
بهترینه دوا ده او حتی دیوه دا لومړی ځل دی چی
خوښی ورکوونکی پیښی بنودل شویده چی یو بنه او
انتظار کولای شی چی
روانی فشار کم کړی او د
بدن د ایمنی دستګاه تقویه
کړی .
د طب یو پوه وائي :
که چیری یو انسان
اطلاع حاصله کړی چی
څو ورځی وروسته او یا په
راتلونکی کی ده ته
یو مثبت اود خوښی
نه ډکه یوه پیښه ،
پیښیږی نو دده په
وینه کی اضطرابی
هورمونونه کمیږی
او کیمیاوی ارام

خوښی ببنونکی
خبر هم د انسان پر وجود
تاثیر اچوی ، پورتنی
موندلی دا جوتوی چی
خندیدل د انسانانو عمر
اوږدوی .

کمپیوټری تراکتور

جاپانی محققانو یو ددغی تراکتور
نوع تراکتور جوړ چی په یوه ثانیه کی
کړیدی چی بی له یی تیزوالی
ډریورہ روانیږی او له دری مټره دی د بزګرانو
ځمکی څخه ځان لخوا یې ډیر زیات هر
خپل تم ځای ته کلی شویدی او
رسوی ددغه بازار ته د دغه
تراکتور جوړونکی تراکتور د وتلو
جاپانی شرکت سره دغی
مشرانو ویلی دی چی دا کمپنی ته ډیر
تراکتور د کمپیوټر په فرمایشونه
ذریعه عمل کوی . رسیدلی دی .

پادشاه بقه ها

گویند روزی بقه ها نزد ژوپیتر (الهه قدیم یونان) شکایت بردند که آنها رهبری ندارند و باید برای شان پادشاهی تعین کردد ، ژوپیتر زمانیکه ساده کی بقه ها رادید کنده بزرگی از چوب را میان ابی که بقه ها در ان زنده گی میکردند ، انداخت صدای بر خورد چوب با آب بقه ها را ترسانیده و همه متواری شدند ولی دیری نگذشت که بر بی دست و پایی چوب پی برده و در کنارش به قرا قرا وآب بازی پرداختند و بعد به حدی چشم سفید شدند که بالای کنده چوب بالاشده و باهم قصه و جنگ میکردند بقه ها متوجه شدند که ژوپیتر آنها را تحقیر کرده بناً باز مراجعه کرده و خواست شانرا تکرار کردند این بار ژوپیتر ماهی ای را به محل اقامت بقه ها فرستاد تا آنها را رهبر باشد . طبیعت نرم و خوب ماهی نیز نتوانست به مزاج بقه های شریر و پر از سر وصدا برابر اید و باز هم به ژوپیتر شکایت برده گفتند که بیش از ین بقه ها برای تحقیر را برداشت نخواهد کرد ، لطف کرده رهبر سالمی را برای شان بفرستد تا آنها به زعامت او افتخار کنند ، ژوپیتر اینبار متاثر شده و فوراً بقه خورکی را امر کرد که ببرد.

وارد قلمرو بقه ها شده پادشاهی کند. بقه خورک با تعظیمی به محل جلوس کرد و دیری نگذشته بود که صدای بقه ها برای همیشه در آن محل خاموش گردید ، زیرا دیگر بقه یی وجود نداشت تا آواز بخواند یا شکایت به ژوپیتر ببرد.

خرس و دو رفیق همسفر

گویند دو دوستی از جنگلی میگذشتند ، اتفاقاً با خرسی روبرو شدند ، یکی از آنها به چالاکی به درختی بالاشده خودش را میان شاخه ها پنهان کرد. دوست دومی که طریق بالاشدن به درخته را نمیدانست از ناچاری و ترس روی زمین دراز کشید ، خرس آهسته آهسته نزدیک شده سراپای او را به بوئیدن گرفت و بعد به تصور اینکه انسان افتاده روی زمین مرده است راهش را گرفته و دور شد. دوست اولی از درخت به زیر آمده فوراً بالای سر دوستش ایستاده پرسید ، خرس در گوش ات چه میگفت؟
رفیقش جواب داد ، هیچ نصیحتم میکرد ، اولی با کنجکاوی پرسید مگر چه نصیحتی؟
دومی گفت: هیچ میگفت کسانیکه دوستان شان را در روز های بد تنها میگذارند شایسته دوستی و رفاقت نیستند.

نکته ها

انسان و انسانیت! اولی در جاده ها سرگردان است و دومی در کتابها.

دموکراسی: از آن رو محبوب است که به هر کس اجازه میدهد تا خودش را آزاد بداند و این خوش خیالی را با خود به گور ببرد.

حقیقت: آنی که آنرا نمی داند نادان است و آنکه میداند و انکار میکند تبهکار.

بدی: عادی شدن آن دلیل خوب بودنش نیست.

آزادی: در جای محدود می شود که از دیگری آغاز میگردد.

کوچک: چیزیست که مورچه ها آنرا بهتر از چیز های بزرگ می بینند و اکثر آدمها نیز.

زندان: تا بحال به آن بزرگی وجود ندارد که بتواند ذهن و اندیشه انسانها را محبوس کند.

مرد: بدنیا آمدن آن اتفاقی اما مرد مردن فضیلت اکتسابی است.

د میرفضائي بیړی

د میرفضائي بیړی د ۱۹۸۶ م کال د فبروری په ۱۹ بهرنی فضا ته و توغول شوه، د فضا او فضا نور دی په کار کي هر ګام په خپل ذات کي یو بی نظیره کار وی، او هر اقدام ددغی اسرار آمیزه نړی نه د انسان مخی ته یوه کړکی پرانیزی، چې په دغه برخه کي د میر د بیړی تو غول هم یو مهم ګام شمېرل کېږی.
د ۱۹۸۶ کال د می په ۲۱ نېټه د سیوز TM-1 سفینه فضا ته و توغول شوه او د میرد بیړی سره یو ځای شوه، چې بیا وروسته د همدی میاشتی په دیرشمه نیټه د میر څخه جلا او ځمکی ته راستنه شوه.
د ۱۹۸۷ کال د فبروری په میاشت کي د سیوز TM-2 سفینی، دوه کیهان نوردان د میر بیړی ته انتقال کړل، چې دغو کیهان نور دانو یوولس میاشتی د میر په فضائي بیړی کي ځیرنی او تحقیق وکړه او هلته استوګن وو.
د ۱۹۸۷ کال د مارچ په ۳۰ نېټه د کوانت رصدخانه د میر بیړی ته ولیږدول شوه او د اپریل په ۱۲ نېټه د میربیړی سره یوځای شوه، وروسته د هغی د نړی د بېلابېلو هېوادونو لکه د ستوائي، بلغاریا، افغانستان او فرانسی فضانور دانو د روسی کیهان نوردانو سره یو ځای د میر فضائي بیړی ته ولاړل چې دغه شمېر بېلابېلو هېوادونو څخه (۱۰۴) فضانوردانو ته رسېږی، چې په دی توګه د میرفضائي بیړی په یوه تحقیقاتی لابراتوار بدله شوی وه.
دغه بیړی پنځلس کاله خورا ګټور کارونه ترسره کړی، اتیا زره ځلی د ځمکی پر شاوخوا را خرخېدلي ده او ۱۳۵ کیلو ګرامه وزن ئي درلود چې په پای کې د ۲۰۰۱ کال د مارچ په ۲۴ مه نېټه په جنوبی بحرالکاهل کې راکوزه کړای شوه، د میرفضائي بیړی د ډېر اوږده عمر او ډېره بریالی فضائي بیړی وه، چې خورا په زړه پوری او د اهمیت وړ شرایط ئي د طبیعی علومو او نجومو په برخه کي برابر کړل، دغی بیړی د هوا د وړاندوینی او په سمندرونو کې د توپانونو د تعقیب په هکله ستر خدمتونه ترسره کړل، د میرفضائي بیړی د سپرلیو لرونکو فضائي نړیوال بیړیو طرحه، چې په شلمی پیړی کې د فضائي لاسته راوړنو وروستی لاس ته راوړ نه شمېرل کېږی منځ ته راوړه، چې شپاړس هېوادونه د هغی په جوړولو او فضا ته دهغی په توغولو کې سره شریک دی.

آیا میدانید؟

- یکی که دو نمی شود چیست؟
- دوی که سه نمی شود چیست؟
- سه یی که چار نمی شود چیست؟
- چهاریکه پنج نمی شود چیست؟
- پنجی که شش نه میشود چیست؟
- ششی که هفت نمی شود چیست؟
- هفتی که هشت نمی شود چیست؟
- هشتی که نه نمی شود چیست؟
- نه یی که ده نمی شود چیست؟
- ده ی که یازده نمی شود چیست؟
- دوازده ای که سیزده نمی شود چیست؟

وزارت اطلاعات و فرهنگ پاسخ میدهد

در صفحه چهارم شماره (۹۵) مورخ اول دلو ۱۳۸۱ روزنامه اراده زیر کلیشه، (نامه وارده) نامه از محترم اسد به نشر رسیده که بیانگر محاسبه وقضاوت نادرست شان میباشد بخاطر وضاحت موضوع ایجاب میکند تا با اظهار یاد اوری و تذکر مختصر بجواب شان پرداخته شود.

اینکه نگاشته اند وزیر اطلاعات وکلتور از فلان جای که اثار باستانی کشف شده دیدن مینماید یا در قسمت ترمیم فلان منطقه، با ستانی که قدامت دارد برای مسوولین هدایت میدهد وجای دیگری مینویسد ایا ضرورت مبرم کشور ها اینست تا پول های گزاف ومنابع هنگفت بخاطر اعمار وابادی مقبره ها وابده ها به مصرف برسد ایا نمیشود این پول های گزاف را بخاطر بهبود زندگی ژورنالیستان و قلم بدستان به مصرف برساند. . .

برای همه معلوم و روشن است که مضارف ترمیم ابدات تاریخی را کشور های دوست و فرهنگ دوست و یونسکو یا اشخاص چون پرنس کریم اقا خان بدوش گرفته اند.

طور مثال باز سازی باغ بابر و ترمیم ابدات تاریخی ان ساحه ویا ترمیم مقبره تیمور شاه درانی را پرنس کریم اقاخان بدوش گرفته است همچنان سایر ابدات تاریخی مانند منار جام که در حال منهدم شدن میباشد از طرف یونسکو و سایر کشور های دوست ترمیم میشود.

نویسنده محترم باید بداند که بازسازی ابدات تاریخ و یا ترمیم ان بار دوش بودجه دولت نبوده که نویسنده محترم ازین ناحیه تشویش دارند. نویسنده محترم شاید اگاهی داشته باشند که ترمیم ارامگاه شاه دو شمشیر (ع) با مصرف شاغلی عبدالغفار داوی وبه سرپرستی وزارت اطلاعات وکلتور به پایان رسانیده شده.

اگر وزارت اطلاعات و فرهنگ اثار

> وزارت محترم اطلاعات و فرهنگ جواب نامه وارده منتشره در شماره (۹۵) را به روزنامه اراده فرستاده اند که ذیلاً به نشر میرسد

تاریخی وباستانی را با همکاری یونسکو وکشور های دوست ترمیم نکند واثارا بحال خودشان رهانماید وبگذارد تا یکتعداد اثاری که معرف هویت ملی وتاریخی افغانها است بمرور زمان از بین برود، این عملی خواهد بود که از وزیر گرفته تا کارمندان پائین رتبه این وزارت در مقابل تاریخ ونسل های بعدی مسوول وجوابده خواهد بود.

اگر افتخارات وداشته های ملی وتاریخی خود را احیا وباز سازی نکنیم و بگذاریم همه برباد فنا روند پس فرق بین ما وطالبان این مزدوران بیگانه که به اساس هدایت باداران بیرون مرزی شان موظف به از بین بردن هویت تاریخی ما بودند چه خواهد بود؟

بعد از حادثه ۱۱ سپتامبر و استقرار اداره موقت وبعداً استقرار دولت انتقالی اسلامی افغانستان جهان متوجه گردید تا در پهلوی سایر مساعدت ها یک مقدار پول و امکانات را بخاطر باز سازی اثار وابدات تاریخی کشور ما که در واقع گنجینه از اثار تاریخی باشندگان کره زمین است در اختیار وزارت اطلاعات وکلتور قرار دهد این ادارات صرف وظیفه شان حمایه از همین بخش ها میباشد و مکلفیت تادیه معاشات مارا ندارند و ما هم پولی را که بخاطر ترمیم اثار تاریخی بدست میاوریم وظیفه داریم تا صرف در همان بخش کاری مصرف نمایم ما نمیتوانیم پول ترمیم طاق ظفر در پغمان یا جاده میوند یا ارامگاه تیمورشاه و یا خریداری اثار ونسخ خطی را طور بخشش یا اضافه کاری و شب کاری به محترم اسدجان یا دیگر نویسندگان وژورنالیستان بدهیم. اینکه وزیراطلاعات وکلتور به ارتباط امور وظیفوی وخدمات فرهنگی وکلتوری از ولایات بازدید میکند باعث خشم نویسنده گردیده وباز هم شکایت از گرسنگی و فقر و بی‌موتری کرده اند، باید بدانند که باز هم بخش مصارف روغنیات، تیل و امثال ان علیحده بخش معاشات واضافه کاری ها علیحده بوده، هیچ وزیر یا رئیس هیچوقتی از پول تیل وسایل نقلیه وزارت خانه مربوطه اضافه کاری و ماء کول برای مامورین نداده و نخواهد داد.

در ارتباط بی سرپناهی نویسندگان و ژورنالیستان از همه ارگانهای دولتی وزارت اطلاعات و فرهنگ پیش قدم بوده و خواهد بود. نیمدانیم که نویسنده ازین ابتکار وزارت شان چرا بی خبر بوده است.

بقلم پوهاند داکتر محمد حسن کاکړ

بخش پنجم

موهن لال و افغانها و جنگ اول افغان _ انگلیس

روسیه در عین حال شخصی بنام پال ویکوویچ را به قندهار و کابل فرستاد و موصوف در اواخر نوامبر یا اوایل دسمبر به کابل رسید. اعزام ویکوویچ در اصل شاید بجواب نامه امیر دوست محمد خان صورت گرفته باشد زیرا امیر موصوف در اواخر سنه ۱۸۳۵ یا اوایل سنه ۱۸۳۶ ضمن نامه ای از روسیه مطالبه نمود در برابر شاه شجاع و رنجیت سنگهه، حکمران پنجاب، با او کمک کند. این بعد از آن بود که شاه شجاع در ۱۸۳۴ به کمک پولی انگلیسی با امیر و سرداران قندهاری یک مصاف ناکام در قندهار پرداخته بود. ویکوویچ باید بقرار دستور تحریری که باو داده شده بود به امیر توصیه میکرد که تحت قیادت فارس با قندهار متحد گردد. روسیه همچنان امید وار بود هرات هم تشویق شود از ادعاهای خود بالای قندهار و کابل منصرف گردد. اما روسیه غیر از بستن قرار داد تجارتی بدادن کدام کمک دیگر حاضر نبود. در عین حال گفته میشد که ویکوویچ بقرار دستور شفاهی صلاحیت داشت مبلغ دو ملیون روپیه به امیرطور قرضه بدهد اما برایش وعده بدهد که در استرداد پشاور با او کمک خواهد شد. در انوقت روسیه قادر بران نبود که خود رول فعالی بازی کند و باین سبب تمام دستور هایش مجموعه توصیه ها و تجویزات بود، اما ویکوویچ و سیمونیچ مثل یک دو مامور دیگر از سرحد امور تجارتی عبور کرده، به فعالیت های سیاسی دست زدند و درین راه خوب پیش رفتند. ویکوویچ در کابل با امیر توصیه کرد خود را زیر اثر شاه فارس قرار دهد و از حفاظت او از طرف روسیه مطمئن باشد. اما امیر بوعده های او وقعی نگذاشت و برای مدت سه ماه یعنی تا وقتیکه هیات انگلیسی بسر کرد گی برنس در کابل بود اورا در انزوا و تاریکی نگاه داشت. او میدانست که انگلیس نسبت بروسیه و فارس به او مفید تر شده میتواند.

برنس در راس یک هیات تجارتی بتاریخ ۲۰ سپتمبر ۱۸۳۷ بکابل امده بود. گورنر جنرال هندوستان، لارد اکلیند، تا انوقت در مسایل سیاسی افغانستان علاقمندی نشان نمیداد و هیات اعزامی او برای مقاصد تجارتی و جمع اوری معلومات بود و به برنس هدایت داده بود که (برای هیچ چیز تعهدات ندهد.) اما برنس در عوض به فعالیت های سیاسی دست زد و موضوع تجارتی را در طاق نسیان گذاشت. او متعقد بود حکومت متبوعش میخواهد مذاکراتی ناکام گردد که بین قندهار و فارس در جریان بود و در موضوع پشاور بین افغانها و سک ها وساطت کند. حکمران پنجاب، رنجیت سنگهه، پشاور را در سنه ۱۸۳۴ متصرف شده اما سک ها در بهار ۱۸۳۷ در جنگ جمرود از قوای امیر شکست خورده، قوماندان اعلی شان کشته شده و اکنون امیر دوست محمد خان متوقع بود پشاور را از راه مذاکرات با برنس بکدام ترتیبی بدست ارد، در مذاکراتیکه درین باره براه انداخته شد امیر باین نظر مخالفت نشان داد که پشاور به برادرش سلطان محمد خان که سک ها پشاور را از او متصرف شده بودند پس داده شود. در عوض پیشنهاد کرد که پشاور بخودش مسترد گردد و او حاضر است بحکمران پنجاب باجی تادیه کند. این مذاکرات بجایی نرسید. در آخر امیر حاضر شد در برابر حرکت دوستانه برتانیه پشاور به سلطان محمد خان اعاده گردد. امیر باز هم به مطلب خود نرسید. ناکامی امیر باین سبب بود که اکلند حاضر نبود بالای حکمران پنجاب فشار وارد کند تا پشاور را بامیر مسترد نماید. موصوف اتحاد و دوستی حکمران پنجاب را مرجع تر میدانست و رنجیت حاضر نبود پشاور بامیر مسترد گردد. اکلیند باین فکر کلایدوید گرانیده بود که چون برادران بارکزانی باهم متحد شده نمیتواند افغانستان تقسیم شده به مفاد برتانیا بوده، استرداد پشاور امیر را توانا تر نموده توازن را بر هم خواهد زد امیر با وجود آن هم نخواست با انگلیسها قطع رابطه نماید. از برنس بنام (عزت و اکرام) مطالبه ای نمود. معنی (عزت و اکرام) در این قرینه حصول اطمینان برای بدست اوردن پشاور و محفوظ بودن از جانب غرب یعنی ایران بود ولی برنس به هیچ یکی از این مطالبات جواب مثبت داده نمیتوانست. اخیر الذکر بتاریخ ۲۲ فبروری ۱۸۳۸ بهدایت اکلند بامیر جواب منفی داد وخود بتاریخ ۲۵ ماه اپریل کابل را بقصد هندوستان ترک کرد. بعد از ان بود که امیر ویکوویچ را که از اواسط فبروری به بعد گاه گاه در حضور خود میپذیرفت، طور عینی بدربار خواست و به روسیه و ایران رجوع کرد تا اگر بتوانند به کمک آنها پشاور را بدست آرد.

ویکوویچ به تقاضای امیر جواب مثبت داد (متعهد شد برای برادران بارکزایی پول تهیه کند ورنجیت سنگه را به مصالحه با او وادارد.) باین منظور به رنجیت سنگ نامه ای ارسال کرد ولی او به ان اهمیت نداد، ویکوویچ بعد به قندهار رفت و گفته میشد که در انجا بین شاه فارس و سران قندهار معاهده ای تسوید شد، اما اینچنین معاهده منعقد نشده بود. خبر انعقاد ان از جعلکاری امیر بود برای اینکه حمایت برتانیه را برای بدست اوردن قندهار و پشاور بدست ارد. این انکشافات در بهار و تابستان سال ۱۸۳۸ رخ داد در انوقت اکلیند از خطر یک دولت قوي مسلمان در مجاورت هند و با ارزش بودن لاهور بحیث یکدولت حایل هند، طور منظم سخن میراند. اما سیاست او در ظرف چندهفته کاملاً تغیر نمود. سه عامل در تغیر سیاست اکلند موثر افتاد.

ادامه دارد

In this issue:

1- The transitional government needs calculation commission
2- Protection of heritages from smuggling
3- The transport rules should be carried out
4- Government land is not possession of the singles
5- Afghan villager women are ignored
6- High prices, enemy of the people
7- Annoyed by own hearth
8- Entertainment page
9- Government offices or kitchens
10- Muhanlal and Afghans (the first Afghan-Britain war)
11- And news

ای دل از دست تو تنگ

حرف تو تز ویر و پندار تو رنگ
ای دل از دست تو تنگ
گشته ایم از دست تو ما گیچ و منگ
ای دل از دست تو تنگ
جمله حرف تو بود کذب و دروغ
ماست گفتی بود دوغ
دور شو از پیش چشم بیدرنگ
ای دل از دست تو تنگ
ما فقیریم و فقیریم و فقیر
هی به دام تو اسیر
بلع کردی امتیاز همچو نهنگ
ای دل از دست تو تنگ
بشنود کی گوش تو فریاد ما
کی رسي بر داد ما
باش تا بازش کند ضرب کلنک
ای دل از دست تو تنگ
چنگ تو در خون ما شد غوطه ور
روزم از بد شد بتر
بگسلد باشد که تا این تار چنگ
ای دل از دست تو تنگ
وعده دادی و نکردی چون عمل
هست این رسم دغل
میشود حرفت همه یکسر جفنگ
ای دل از دست تو تنگ
گفتی: او "آقا" تو خدمتگار او!
گرم شد بازار او
بس شکست او بر سر مردم قلنگ
ای دل از دست تو تنگ
برق قاچاقی به "آقا" داده ای
از حق ما داده ای
خانه "آقا" چراغان رنگ رنگ
ای دل از دست تو تنگ
من به تاریکی نشینم تا سحر
میخورم خون جگر
او به خورد و خواب خود مست و ملنگ
ای دل از دست تو تنگ
ظلم خود ظلم است ندارد شاخ و دم
گشته ایم از راه گم
میزنی بر شیشه مردم تو سنگ
ای دل از دست تو تنگ
میزنی هر دم تکر بر شانه ام
ریخت آب و دانه ام
چپه کردی از سر و دوشم تبنگ
ای دل از دست تو تنگ
هیچ در دیوان تو انصاف نیست
جز گزاف و لاف نیست
چون کنی منزل تو با این اسپ لنگ
ای دل از دست تو تنگ
حرف حق خود سوز دارد جان من
تا نسوزی در سخن
داده ام در پیش شمع این صفحه رنگ
ای دل از دست تو تنگ

ع. سرگردان

ارادہ
د افغان نشراتي مرکز خپرونه
زیر نظر هیئت تحریر نشرمی شود
موسس: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: ظهور افغان
مترجمسوول: سید محمد "عادل"
معاون: اسماعیل "تیمور"
اندیشه و عقاید مطرح شده از سوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوزودیزاین :محمدجمیل "امیري" چاپ مطبعه مرکزنشرات افغان

ERADA Daily
ارادہ در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان میشه (سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد)
تلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷
۰۷۰۲۷۹۳۰۴
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan
Mobil Phone: 070224787 070279304
قیمت یک شماره ۲ افغانی